معلومات په Pashtu

د لا سینټ یونیون کاتولیکي لیسې (La Sainte Union Catholic Secondary School) د راتلونکي په اړه سلا مشوره

کامډن (Camden) د زده کړې لپاره یو ډېر ښه ځای دی. موږ په خپلو غوره ښوونځیو او هغو کارکوونکو ویاړو چې هره ورځ زیار باسي ترڅو ماشومانو ته تر ټولو غوره زده کړې برابرې کړي.

موږ غواړو چې د کامډن (Camden) هر ماشوم په خپله سیمه کې داسې ښوونځي ته د تګ فرصت ولري چې د هغه اړتیاوو ته مناسب وي او د زده کړې، ملګرو پیدا کولو او ښې ودې لپاره ورته تر ټولو ښه چاپېریال برابر کړي.

په کامډن او د لندن په نورو سیمو کې ښوونځي له زیاتېدونکو مالي فشارونو سره مخ دي.

د ماشومانو د زېږون د کچې ټیټېدل او له لندن څخه د کورنیو کډه کول د دې لامل شوي چې په ښوونځیو کې د شاملېدو لپاره ماشومان کم شي. له همدې امله، د زده کوونکو شمېر کمېږي او په ښوونځیو کې له اړتیا څخه زیات ځایونه تش پاتې کېږي.

په ابتدايي ښوونځیو کې د هر خالي ځای له امله، ښوونځي هر کال په منځنۍ توګه د حکومت له مهمې مالي مرستې څخه 7,500 پونډه له لاسه ورکوي. په ثانوي ښوونځیو کې د هر خالي ځای له امله، دا اندازه په کال کې په منځنۍ توګه 9,700 پونډه ده.

د سیمه ییزې شورا په توګه، موږ مسؤلیت لرو چې ډاډ ترلاسه کړو چې په ښوونځیو کې کافي، باکیفیته او د اوږدې مودې لپاره د دوام وړ ځایونه شته او دغه ځایونه په اغېزمنه توګه اداره کېږي.

د زده کوونکو د شمېر د کمېدو له امله، موږ اړتیا لرو چې دا وضعیت له ښوونځیو سره په نږدې همکارۍ اداره کړو.

د ټېر کال په اوږدو کې، د ښوونځیو د کافي ځایونو د برابرولو د پروګرام (School Sufficiency Programme) د یوې برخې په توګه، موږ له هغو ښوونځیو سره نږدې همکاري کړې چې له دغو ستونزو څخه ډېر اغېزمن شوي دي، ترڅو له هغوی سره د دې ننګونو په حل کې مرسته وکړو.

د ټولو کسانو له هڅو او ژمنتیا سره سره، **د لا سینټ یونیون کاتولیکه لېسه (La Sainte Union Catholic Secondary School)** له هغو 4 ښوونځیو څخه یوه ده چې لا هم له ډېرو سختو او دوامدارو ستونزو سره مخ ده، چې په دې کې لاندې ستونزې شاملې دي:

- په ښوونځي کې د زدهکوونکو لپاره د ډېرو ځایونو خالي پاتې کېدل.
- او د مالي فشارونو زیاتېدل.

د 2026 کال د اکتوبر په 12 نېټه، موږ یو راپور خپور کړ چې پکې سپارښتنه شوې وه چې د **لا سینټ یونیون کاتولیکي لیسې** د راتلونکي په اړه له خلکو سره سلا مشوره وشي. د 2026 کال د اکتوبر په 20 نېټه، د کامډن د شورا د کابینې غړو، چې د شورا مخور غړي دي، غونډه وکړه او پرېکړه یې وکړه چې دا سلا مشوره پیل کړي.

دا سلا مشوره اوس د 6 اونیو لپاره پرانیستې ده، چې د 2026 کال د نومبر په 2 نېټه د سهار په 9:00 بجو پیل شوې او د ډسمبر په 14 نېټه د سهار په 9:00 بجو پای ته رسېږي. نو مهرباني وکړئ خپل نظر راسره شریک کړئ.

- هر څوک کولی شي په لاندې وېبپاڼه کې د سلا مشورې فورمه په انلاین ډول ډکه کړي: **consultations.wearecamden.org/schools/lasainteunion**
- که چېرې ستاسې ماشوم د **لا سینټ یونیون کاتولیکي لیسې زده کوونکی وي** او تاسو غوره ګڼئ چې د سلا مشورې کاغذي فورمه وشپږه کړئ، نو کولی شئ چاپ شوې فورمه له ښوونځي څخه واخلئ، ډکه یې کړئ

او بېرته يې ښوونځي ته وسپارئ. نور ټول کسان کولی شي لاندې برېښنالیک ته پیغام واستوي:**lasainteunionconsultation@camden.gov.uk**

- که چېرې تاسې د سلا مشورې معلوماتي کتابچې ته په ساده او د لوستلو اسانه بڼه (EasyRead) یا په نورو ژبو اړتیا لرئ، نو لاندې برېښنالیک ته پیغام واستوئ:**lasainteunionconsultation@camden.gov.uk**

د هغو ماشومانو د مور او پلار او پالونکو لپاره چې په دې ښوونځي کې زده کړې کوي، انلاین او حضوري غونډې هم جوړېږي. د دې غونډو په اړه به نور معلومات په مستقیم ډول له هغوی سره شریک شي.

له تاسې څخه به د لاندې وړاندیزونو په اړه نظر وغوښتل شي. همدارنګه، تاسې کولی شئ نور وړاندیزونه هم وړاندې کړئ یا نورې ممکنې لارې په ګوته کړئ.

- د ښوونځي د زده‌کوونکو د منلو د رسمي اعلان شوي شمېرې (Published Admission Number – PAN) په کمولو سره د نویو زده‌کوونکو لپاره د ځایونو شمېر کمول.
- د لا سېنټ یونیون لېسې له بلې لېسې سره د ګډ مدیریت تر چتر لاندې راوستل. دا په دې معنا ده چې دغه لېسه به لږ تر لږه له یوه بل ښوونځي سره ګډه اداره کوونکې شورا ولري.
- یوازې د 7 څخه تر 11 ټولګیو پورې د ښوونځي د زده‌کړو برخه ترلې، خو له 16 کلنۍ وروسته د زده‌کړو برخه، یعنې د 12 څخه تر 13 یا 14 ټولګیو پورې، ساتل او په نوي بڼه تنظیمول.
- د ښوونځي بشپړ ترلې، یعنې د 7 څخه تر 13 یا 14 ټولګیو پورې د ټولو زده‌کړو بندول.

مخکې له دې چې په سلا مشوره کې خپل نظر وړاندې کړئ، مور تاسې ته په کلکه سپارښتنه کوو چې د سلا مشورې معلوماتي ټولګه ولولئ. په دې کې د ښوونځي اړوند شمېرې، معلومات او هر وړاندیز په تفصیل سره تشریح شوي دي.

د سلا مشورې په موده کې به مور شواهد او معلومات راټول کړو، څو معلومه کړو چې هر وړاندیز به پر هر ښوونځي څه اغېزې ولري.

دا شواهد به په یوه راپور کې وړاندې شي او د راتلونکو ګامونو د وړاندیز لپاره به تري ګټه واخیستل شي. د شورا د کابینې غړي به د 2027 کال په فبروري کې د دغو ګامونو په اړه پرېکړه وکړي.

د نورو معلوماتو لپاره

- د سلا مشورې سند له لاندې وېبپاڼې څخه ترلاسه او ولولئ:**consultations.wearecamden.org/schools/lasainteunion**
- د پوښتنو ځوابونه، په ساده او د لوستلو اسانه بڼه (EasyRead) معلومات او په نورو ژبو معلومات په لاندې وېبپاڼه کې موندلی شئ:**camden.gov.uk/SchoolConsultations**
- تاسې کولی شئ خپلې پوښتنې لاندې برېښنالیک ته واستوئ:**lasainteunionconsultation@camden.gov.uk**

د 6 اونیو سلا مشورې له پای ته رسېدو وروسته تمه کېدونکي ګامونه

- **فبروري 2027:** د شورا د کابینې غړي به د سلا مشورې پایلې او نور اړوند عوامل وڅېړي او په دې به غور وکړي چې د هر ښوونځي لپاره کوم وړاندیز پر مخ یوسي.
- **فبروري 2027:** که د شورا د کابینې غړي یو ښوونځي له بل ښوونځي سره د یوځای کولو یا د ښوونځي د ترلو وړاندیز غوره کړي، نو له هغې وروسته به د قانون له مخې د 4 اونیو رسمي سلا مشوره ترسره شي. په دې موده کې به ښوونځی، مور او پلار، پالونکي او نورې اړوندې خواوې یو ځل بیا د وړاندیز په اړه خپل نظرونه وړاندې کولی شي.
- **اپریل 2027:** د شورا کابینه به د ټولو وړاندیزونو په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي.

- **له اپریل څخه تر مې 2027 پورې:** که پرېکړه د ښوونځي پر کارکوونکو اغېز ولري، نو له کارکوونکو سره به د رسمي سلا مشورې بهیر پیل شي.
- **د پلي کېدو نېټه:** دا به په دې پورې اړه ولري چې کوم بدلون، که کوم بدلون ومنل شي، تصویب شوی وي. خو امکان لري چې بدلونونه د راتلونکي تعلیمي کال، یعنې د 2027 کال د سپتمبر له میاشتې څخه پلي شي.

موږ پوهېږو چې د دې خبرې اورېدل ستاسې لپاره ستونزمن دي، خو اړینه ده چې همدا اوس اقدام وکړو، څو د وضعیت د لا خرابېدو مخه ونیسو او د سیمې د ټولو ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې ښه او پیاوړي امکانات، هم د اوس لپاره او هم په راتلونکي کې، خوندي وساتو.

موږ دا هم درک کوو چې دا مهال تاسې له یوه ستونزمن او ناڅرګند وضعیت سره مخ یاست. تر اوسه هېڅ وروستۍ پرېکړه نه ده شوې او موږ به تاسې ته د پرمختګونو او نویو معلوماتو په اړه په دوامداره توګه خبر درکوو.